# سپېڅلے سیاستدان
# خان عبدالولي خان

ارباب جهاد ګل کتوزے

هسې خو دَ دنیا په مخ په هره سیمه او هر قام کښې مختلف قسم سیاستدانان موجود وي چې هغوي په څۀ نا څۀ شکل کښې او دَ څۀ نه څۀ مقصد دپاره دَ خپل اولس رهبري کوي خو په دغه سیاستدانانو کښې دَ شمېر څو تنه به داسې وي چې هغوي دَ اصولو او دیانتدارۍ سیاست کړے وي او کوي ئې ځکه خو دَ دغه رهبرانو لمن هم بې داغه وي او ژوند هم او خپل قام ئې په ډېر ویاړ دَ خپل قامي رهبر او قهرمان په حېث مني.

په دغه نوموړو سیاستدانانو کښې یو ځلنده نوم، یو بې داغه رهبر او یو دَ اصولو سیاستدان دَ پښتنو قامي رهبر خدائے بخښلے خان عبدالولي خان دے چې دَ خپلو اعلٰي اصولو، بې لوثه خدمتونو، بې داغه ژوند او اوچتو اوصافو له کبله دَ سیاست په اسمان دَ یو ځلېدونکي او روښانه ستوري په شان رڼا او ځلا کوي او یو جهان ئې دَ پاک سیاست معترف دے او دوست خو څۀ چې دښمن ئې هم دَ اصولو او خدماتو قائل دے. دا نامتو سیاستدان په خپل پښتون قام دومره مئېن ؤ چې خپل ټول ژوند ئې دَ هغوي دَ ازادۍ، سوکالۍ، خوشحالۍ، امن او حقونو ترلاسه کولو دپاره وقف کړے ؤ. په دې لړ کښې دَ هیڅ قسمه مصلحت یا سودابازۍ چرې هم ښکار شوے نۀ دے.

دې نامتو سیاستدان په هر دور کښې دَ جمهوریت دَ قیام دپاره هلې ځلې کړې دي، دَ هر آمر، ډکتېټر او غاصب ئې مخالفت کړے دے او دَ جمهوري قوتونو ئې مرسته کړې ده او په دې لړ کښې دوي دَ خپل ژوند یوه غټه حصه دَ جېل دَ تورو تمبو شاته تېره کړه خو دَ خپلو اصولو او رښتوني موقف نه وروستو شوے نۀ دے. تر دې چې دوي ته په ګڼو موقعو دَ اعلٰي عهدو پېشکش هم شوے دے خو دوي په غېر جمهوري طریقه دَ اقتدار کرسۍ ته رسېدل دَ قام سره غداري او بې ایماني ګڼلې ده.

دا عظیم شخصیت یواځې سیاستدان نۀ ؤ بلکې یو مؤرخ او محقق هم ؤ چې دَ "باچا خان او خدائي خدمتګاري" په نوم ئې په څلورو جلدونو کښې ډېر اهم او تاریخي کتاب لیکلے دے چې دَ فخر ابشیاء باچا خان بابا او دَ هغۀ دَ سرخپوشو ملګرو دَ سیاسي ژوند تاریخ ئې محفوظ کړے دے او دَ پښتنو په سیاسي او معاشرتي ژوند کښې دَ یو اهم دستاویز حېثیت لري. دَ دې نه علاوه دَ "رښتیا رښتیا دي" په نوم مرحوم ولي خان بابا چې کوم کتاب لیکلے دے دَ هغې مطالعه دَ هر غېر متعصب لوستونکي سترګې رڼا کوي. په دغه کتاب کښې دَ داسې حقائقو نه پرده پورته کړې شوې ده کوم چې دَ تعصب، دروغو، بې ایمانۍ او خودغرضۍ په پردو کښې دَ ټولې نړۍ نه عموماً او دَ پښتون قام نه خصوصاً پټ کړې شوي وو او هغه تنخوا خوارۀ ابجنټان او تالي څټي ئې په ډاګه کړي دي چا چې دَ انګرېز سامراج چاپلوسي او چمچه توب کړے ؤ او

دَ پښتون قام سره ئې غداري او ټګي کړې وه. دغه ګټور کتاب اردو ژبې ته دَ پښتنو مور بي بي مېرمن نسيم ولي خان ژباړلے دے چې نوم ئې دے "حقائق حقائق هين".

خان عبدالولي خان دَ پښتون قام يو نۀ خرڅېدونکے، نۀ ټيټېدونکے او نۀ ويرېدونکے قائد ؤ. پښتنو ته چې کله هم څۀ سياسي، معاشرتي يا قامي کشاله پېښه شوې وه دوي دَ هغې په حل کولو کښې اهم کردار ادا کړے دے. دَ افغان جنګ په شکل کښې چې کله دَ پښتنو په زمکه دَ ګولو او بارودو اور بل کړے شو او پښتانۀ په پردي جنګ کښې قتلول شروع کړے شو نو ولي خان مرحوم دَ خپل قام دې حالت ته نۀ شو کتے او دَ دغه جنګ دَ بندېز او دَ پښتنو په سيمه دَ امن راوستو دپاره ئې ډېر ښۀ کردار ادا کړو، دوي په ملک دننه او دَ ملک نه بهر نړيوالو قيادتونو او سياسي سماجي شخصيتونو ته خطونه واستول او دَ افغان جنګ دَ بندولو او امن قائمولو کښې ئې ورله دَ خپل خپل کردار ادا کولو بلنه ورکړه. دغه خطونه په ملکي او غېر ملکي اخبارونو او رسالو کښې چاپ هم شو.
پښتنو ته چې کومې غټې مسئلې ورپېښې وې، په هغې کښې يوه غټه مسئله دَ کالاباغ ډېم هم وه. دَ دغه ډېم دَ جوړولو اراده چې چا هم کړې ده، خان بابا مرحوم ورته مخې ته دېوال شوے دے او دَ پښتنو دَ تباهۍ دغه ستره منصوبه ئې کاميابۍ ته نۀ ده پرېښې. دا هم دَ دوي دَ کوششونو او سخت مخالفت برکت دے چې نن دَ کالاباغ ډېم دَ جوړولو منصوبه دَ همېشه دپاره ختمه شوې ده.

خان بابا همېشه دَ صوبائي خودمختارۍ غوښتنه کړې ده او پښتنو له دَ خپلو حقونو حاصلولو دپاره ئې هر ممکن کوشش کړے دے، دوي دَ بجلۍ دَ رائلټۍ مطالبه دَ مرکز نه ډېره په سختۍ سره کړې ده او مدام به ئې دَ وفاق پاکستان نه دا ګيله وه چې دوي پښتنو له هغه حق نۀ ورکوي کوم چې ورله قدرت ورکړے دے، دوي چې به دا نعره همېشه وهله چې "نن دے کۀ سبا دے، دا ملک دَ زرغون شاه دَ ے" دَ دې مطلب هم دا ؤ چې دا به ډېره زر دَ مرکز مجبوري جوړېږي چې دَ آمدن منصفانه تقسيم، دَ بجلۍ رائلټي او نورو داسې لويو حقونو ته به غاړه کېږدي.

نن دَ هغوي دَ زوي او سياسي وارث اسفنديار ولي خان په قيادت کښې پښتنو ته کۀ دغه حقونه پوره ور نۀ کړے شول نو کم از کم شروع ئې وشوه او هغه ورځ لرې نۀ ده چې دَ پښتنو ټولې قامي مسئلې به ختمې شي او خپل حقونه به ورته ترلاسه شي.

دا قامي رهبر دَ جنورۍ دَ مياشتې په ۲۶مه نېټه ۲۰۰۶ء کال دَ دې فاني دنيا نه رخصت شو. دَ دوي مرګ سره دَ قامي سياست يو ستر باب بند شو او دَ جمهوري قوتونو يو لوئے ملاتړ او مرستيال دَ همېشه دپاره خاموش شو. دَ دې حقيقت نه انکار دَ کولو نۀ دے چې داسې مخلص او بې لوثه سياستدان ډېر کم پېدا کېږي او نۀ دَ داسې هستو کمے څوک پوره کولے شي، د کومو مخالفينو او سياسي حريفانو په سترګو چې دَ تعصب چشمې نشته هغوي هم دَ مرحوم ولي خان بابا دَ عظمت، ديانت، بې لوثۍ، حق ګويۍ او پاک سياست قائل دي.

د ايشياء دَ عظمتونه څوانه
د پښتونخوا دَ دنګو غرونو څوانه
سر کړه راپورته خپل وطن وګوره
نمر دے ختلے دَ خوبونو څوانه